

فاروق « فردا »

د نشر نیټه : 15 جون 2019 م

غزل

د خیال سره مې غبرګه شوه خندا ستا د ښو
زرغونه په مچکو مې کړه سا ستا د ښو
څبو غوندې مې ژوند شو د سرابو پر اوړو
منزل ته رسوي به مې، ځلا ستا د ښو
لیدی مې لوګی نشي، اومه در ته ښکارېږم
بتې کې د ځان پوخ کړمه ښېرا ستا د ښو
بانه دې ګرځوې د ګناه ست لپو کې بیا
در جار شمه جانانه یو ځل بیا ستا د ښو
بیعت ته مې تازه کړلو اودس په میو اوس
لمانځه ته غوړومه مصلی ستا دښو
ځنګل کې د درویو، غږوومه د تانوم
د خیال پر وزر آلوزی ښکلا ستا د ښو
دستر ګو په زیارت کې دې قبله ویني د زړه
همداسې منجاور ښه وي فردا ستا د ښو

****

فاروق « فردا »

د جوزا ۲۳ مه ، د جون ۱۳ مه ، کال ۲۰۱۹ ـ مسکو

www.said-afghani.org ـ بازگشت به صفحه اصلی